امیرِ اهلِ سُنّت نه

# د مور و پلار په

## باره کښې سوال جواب

پښتو



پیشکش:

مجلس المدینة العلمیه (دعوتِ اسلامی)

ترجمو:

ټرانسلیشن ډیپارټمنټ (دعوتِ اسلامی)

اَلْحَمْدُ لِلّٰہِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَالصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الْمُرْسَلِیْنَ
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰہِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ ط بِسْمِ اللّٰہِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ ط

# د امير اهلِسُنَّت نه د مور و پلار په باره كښېي سوال او جواب

**دُعائے عطّار:** يا ربَّ الـمُصطفٰی! څوک چې دا رساله "**د امير اهلِسُنَّت نه د مور و پلار په باره كښېي سوال او جواب**" اولولي يا واوري هغه ځماتونو سره محبت كوونكے او د ځماتونو ادب احترام كوونكے جوړ كړې او هغه سره د مور و پلار او سره د ټول خاندان بے حسابه اُوبخښې.

**دُعائے جانشينِ عطار:** يا الله پاكه! څوك چې دا رساله " **د امير اهلِسُنَّت نه د مور و پلار باره كښېي سوال او جواب**" پوره اولولي يا ئې واوري، هغه د مور و پلار خدمت او فرمانبرداري كوونكے جوړ كړې، د هغوئي د نافرمانئ نه ئې محفوظه اوساتې او بےحسابه ئې اوبخښې. اٰمين بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

## د دُرُود شريف فضيلت

د حضرت اَنَس بِن مالك رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ نه روايت دے چې نبـي كريم صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ارشاد اوفرمائيلو: چا چې په ما باندې يو ځل درود پاك اولوستلو الله پاك به په هغه لس رحمتونه نازل كړي او د هغه لس ګناهونه به وران كړي. (ابن حبان،130/2حديث:901)

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

**سوال:** څه خلق د خپل مور و پلار نافرماني کوي بلکه د هغوئي سره بد سلوك کوي، تاسو د هغوئي د پاره داسې نصيحتونه ارشاد اوفرمائې چې هغوئي د خپل مور و پلار سره داسې سلوك کول ختم کړي.

**جواب:** د مور و پلار زړه ته تکليف ورکولو او د هغوئي نافرماني کوونکو ته په دُنيا کښې سزا ميلاويږي او هغوئي په آخرت کښې هم د سزا حقدار دي. **ياد ساتئ!** د مور و پلار فرمانبرداري لازمي فرض دے او د هغوئي نافرماني کول ګناه ده. د مور و پلار د فرمانبردارئ په حوالے سره ډير آيتونه او روايتونه موجود دي. د مور و پلار د اهميت اندازه د دې حديثِ پاك نه اوکړئ چې خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد اوفرمائيلو: **اَلْجَنَّةُ تَحْتَ اَقْدَامِ الْاُمَّهَات** (جَنَّت د ميندو د قدمونو لاندې دے) (مسند شهاب، 102/1، حديث:119) يعني د هغوئي سره نيکي کول جَنَّت ته د داخليدو سبب دے، څوك چې نيکي اوکړي هغه به جَنَّت ته ځي. په بهارِ شريعت کښې دي: چا چې د خپلې مور ښپه ښکل کړه نو دا داسې ده چې د جَنَّت درشل يعني دروازه ئې ښکل کړه. (بهارِشريعت، 445/3، حصه:16) د مور و پلار په مخ کښې آواز اوچتول نه دي پکار، نظرونه لاندې ساتل پکار دي، هغوئي د لرې نه په راتلو اووينئ نو د تعظيم په نِيَّت اودريدل پکار دي، د هغوئي سره د سترګو ميلاوهلو سره هيڅ کله خبرې کول نه دي پکار، کله مو چې [مورا] را اوبلي نو د لَبَّيْك وئيلو سره زر حاضريدل پکار دي، د هغوئي سره په تميز سره محترمې تاسو وئيلو سره خبرې کول پکار دي، د هغوئي په آواز باندې خپل آواز

اوچتول نه دي پکار. د حضرت عَون رَضِیَ اللہ عَنْهُ مور محترمې هغوئي ته غږ اوکړو نو د جواب ورکولو په وخت د هغوئي آواز اوچت شو نو هغوئي په دې وجه دوه غلامان آزاد کړل. (حلیۃالاولیاء، 45/3،رقم:3103۔اللّٰہ والوں کی باتیں(مترجم)، 59/3)

**تاسو اوليدل!** حضرت عَون رَضِیَ اللہ عَنْهُ صرف د مور محترمې په آواز باندې خپل آواز اوچتيدلو باندې دوه غُلامان آزاد کړل، کوم خلق چې د خپل مور و پلار اهميت نه پيژني، هغوئي له د دې نه درس حاصلول پکار دي. **ياد لرئ!** د مور و پلار فرمانبرداري کولو ډير فضائل دي او د هغوئي په نافرمانئ کښې د عذاب غندنه هم ده. د مکتبةُ المَدينه رساله "**سمندري ګنبد**" کښې ليك دي: منقول دي چې يو کس ته د هغې مور غږ اوکړو خو هغه جواب ورنکړو، په دې باندې دهغه مور هغه ته ښيرې اوکړې نو هغه ګونګے شو. (بر الوالدین للطرطوشی،ص79)

غور اوکړئ چې په هغه خومره غټ آفت راغے واقعي دا يو ګونګے پيژندے شي چې د هغه د پاره [بل پوهه کول] خومره مشکل وي لِهٰذا مونږ له پکار دي چې د مور و پلار تابعداري او فرمانبرداري اوکړو ګني په دُنيا کښې هم عذاب او په آخرت کښې هم عذاب دے. حضرت اِمام احمد بِن حجر مکي شافعي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه نقل کوي چې د خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د عبرت نه ډك فرمان مبارك دے: د معراج په شپه ما څه خلق اوليدل کوم چې د اور په خاخونو زوړند وو، ما تپوس اوکړو دا کوم خلق دي؟ اووئيل شو دا هغه خلق دي کومو چې په دُنيا کښې خپل مور و پلار ته رَد بد وئيل. (الزواجر عن

اقتراف الکبائر ،139/2۔جھنم میں لے جانے والے اعمال(مترجم)،265/2) بهرحال چا چې خپل مور و پلار خفه کړي ئې هغه دې توبه کړي، خپل مور و پلار دې راضي کړي او مُعافـي دې ترې اوغواړي. که مور و پلار لرې وي نو فون دې اوکړي یا دې په بله څه ذریعه رابطه اوکړي، د هغوئي کور ته دې لاړ شي او د هغوئي ښپے دې اونیسي او راضي دې ئې کړي، دوئی راضي وي نو جَنَّت دے لِهٰذا هغوئي راضي کړئ او د هغوئي چې څومره جائزې مطالبے وي هغه پوره کړي. (ملفوظاتِ امیراهل سنت ،443/3)

**سوال:** آیا په جَنَّت کښې به مور و پلار هم زمونږ سره وي؟

**جواب:** که مور و پلار د اِیمان په حالت کښې د دُنیا نه رُخصَت شوي وي او اولاد هم په اِیمان رُخصت شوے وي نو بیا جَنَّت ته تلل دي او په جَنَّت کښې به ټول یو ځائے اوسیږي. دغه شان ښځه خاوند که دواړه جَنَّت ته لاړل نو دواړه به یوځائے اوسیږي.

(معجم صغیر، 229/1،حدیث:541 مأخوذاً )(ملفوظاتِ امیراهل سنت، 413/1)

**سوال:** که یو کس د خپل مور و پلار سره محبت کوي خو د هغوئي خدمت نه کوي نو آیا د مور و پلار سره محبت کولو باندې ثواب او خدمت نه کولو باندې به ګناه میلاویږي؟

**جواب:** که مور و پلار ته ئې د خدمت ضرورت دے او هغه د خدمت کولو په ځائے د هغوئي زړه خفه کوي او هغوئي پریشانه کوي نو دا څنګه محبت دے؟ د عام خلقو په مقابَله کښې د مور و پلار سره محبت فطرتي وي. که واجب پریږ دي کوم چې په هغه باندې د خپل مور و پلار له طرفه لازم دے نو ګنهګار به وي.

(په دې موقع باندې مفتـي صاحب اوفرمائيل:) د مور و پلار سره محبت کولو باندې به هغه ته فائده خو اورسي، خو که د مور و پلار خدمت کول په ده باندې فرض يا واجب دي چې په کور کښې بل څوك د کتلو نشته، په ده باندې د هغه نان و نفقه [يعني خوراك څښاك او پالنه] لازم ده نو اوس په خدمت نه کولو باندې به ګنهګار وي. (ملفوظاتِ اميراهل سنت، 54/7)

سوال: که مور و پلار خپل اولاد ته اووائي چې اوس ستا په دې کور کښې هيڅ ځائے نشته نو اولاد له څه کول پکار دي؟

جواب: په دې کښې د اولاد د پاره ډير لوئے ازميښت دے. اولاد له پکار دي چې د مور و پلار سره جګړه اونکړي چې د دې اجازت نشته، د مور و پلار نه دې مُعافـي غواړي، عاجزي دې کوي او په ژړا ژړا دې د خپل مور و پلار ښپې اونيسي او مُعافـي دې ترې اوغواړي. که ريښتيني پښيمانتيا وي نو د الله پاك په بارګاه کښې به کاميابي نصيب شي او اِنْ شَآءَاللّٰهُ الْكَرِيْم! مسئله به حل شي. مور و پلار له داسې نه دي کول پکار بلکه خپل زړه دې نرم ساتي، اګرچې اولاد نافرماني کړي وي هغوئي دې مُعاف کړي. کيدے شي تاسو هم په خپله ځوانئ کښې د خپل مور و پلار سره داسې سلوك کړے وي. بهرحال ټول مور و پلار داسې نه وي چرته چرته به يو نيم داسې وي لِهٰذا جګړې جګړې مُعاف کړئ، خپل زړه صفا کړئ په دې کښې مو د آخرت خير دے.

(ملفوظاتِ اميراهل سنت، 309/2)

سوال: د واده نه پس د خپل مور و پلار نه جدا کيدل څنګه دي؟

**جواب:** د دې يو څو صورتونه دي لکه کور تنګ (يعني وړوکے) دے او مور و پلار هم دا غواړي چې بچے دې جدا شي په دې صورت کښې په جدا کيدو کښې څه باك نشته. که په کور کښې مسائل دي نو د مور و پلار په رضامندئ سره دې جدا شي يعني مور و پلار دې په خوشحالئ سره اجازت ورکړي نو جدا دې شي. صرف د خپلې بي بي مرسته کول او مور و پلار ته رد بد وئيل او دغه شان په جګړه کولو جدا کيدل ډير بد دي. بعضې خلق بوډاګان مور و پلار ته دهکے ورکوي، هغوئي له داسې نه دي کول پکار، که د بوډا مور و پلار له طرف څه ازميښت وي بيا هم د خپلې بي بي ذِهن جوړول پکار دي، هغه دې پوهه کړي چې د دوئي بوډا والے دے صبر کوه، برداشت کوه او ته ژبه مه چلوه، اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيْم! په قلاره قلاره به ټولې مسئلے حل شي. "کله چې اِنګور ژبه پرانيزي نو مُعامله خرابيږي"، دغه شان په پوهه کولو دې کار اوچلوي.

(ملفوظاتِ امیراهل سنت، 3/533)

**سوال:** بعضې وخت مور و پلار بے وجه [اولاد] پوهه کول شروع کوي، حالانکه زمونږه څه غلطي نه وي، هغه وخت غُصَّه راځي، په داسې صورت کښې څه کول پکار دي؟

**جواب:** تاسو د ځان سره يو کاؤنټر (يعني ډيجيټل تسبيح کوم چې وظيفه شميرلو کښې مدد ورکوي) ساتئ او چې کله داسې وي نو دُرُود شريف لوستل شروع کړئ، اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيْم! دا درود شريف به ستاسو غُصَّه ختمه کړي. که په مور يا پلار غُصَّه اوباسئ نو مُعامله به خرابه شي، لِهٰذا صبر کوئ او ژبه بنده ساتلو سره دُرُود شريف لولئ. بيا چې

کله مور و پلار خاموشه شي نو د موقعې په مناسبت سره په ډیره مینه محبت دې هغوئي پوهه کړي. البته که تاسو ته محسوسه شي چې زما د پوهه کولو سره به نور حالات خراب شي نو خاموشه اوسئ.

مور و پلار له هم پکار دي چې بے موقع بے سوچه دې خپل اولاد ته نه قهریږي چې دغه شان به اولاد باغي شي، بیا به مور و پلار په سخت ازمیښت کښې پریوځي، لِهٰذا مور و پلار او اولاد دواړو له د ظُلم نه بچ کیدل پکار دي. (ملفوظاتِ امیراهل سنت، 5/ 365)

**سوال:** آیا په هر کار کښې د مور و پلار نه اجازت اخستل ضروري دي؟

**جواب:** دومره وړوکے ماشوم چې نه پوهیږي، په عرف کښې د هغه بهَر وتلو سره مور و پلار پریشانه کیږي نو مور و پلار له پکار دي چې هغوئي دې د دغه ماشوم د اجازت غوښتلو عادت جوړ کړي او هغه دې پوهه کړي چې بے اجازته به چرته هم نه ځې. ماشوم خو ځپله نه پوهیږي او نه هغه ځپله اجازت اخلي لِهٰذا د هغه د اجازت غوښتلو عادت جوړول پکار دي. کله چې زه وړوکے ووم او پوهه ووم بیا هم ما ته به خپلې مور وئیل: بهر روډ ته مه ځه. زمونږ د کور په شا روډ وو او روډ پوریوتلو سره ککرې ګراؤنډ وو نو وئیل به ئې: ګراؤنډ ته مه ځه. زه به ګراؤنډ ته د تللو نه ویریدم چې مور منع کړے یم. مور و پلار د بچي د ښه والي د پاره منع کوي، په دې وجه د مور و پلار نه اجازت غوښتل پکار دي. که ماشوم پوهیږي او مور و پلار د هغه په بهر وتلو پریشانه کیږي نه او ماشوم بے پوښتنه د لمانځه د پاره جمات ته یا سبق لوستلو د

پاره مدرسې او جامعې ته ځي او مور و پلار ته پته هم ده نو ښکاره خبره ده چې مور و پلار به ئې بد نه ګڼي، خو بیا هم اجازت غوښتل پکار دي. (ملفوظاتِ امیراهل سنت، 6/361)

**سوال:** آیا اولاد چې کوم نیك عمل کوي د هغې ثواب مور و پلار ته رسي یا هغوئي ته ایصالِ ثواب اوکړي نو بیا ثواب رسیږي؟

**جواب:** که بچے غواړي چې زه د خپل خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سُنَّت ادا کړم، ګیره پریږدم، خو مور و پلار هغه ته قهریږي او رټي ئې [او وائي ورته] چې "ته به مُلَّا جوړیږې؟ حجام جوړیږې؟ کباب به خرڅوې؟ مُلَّا مه جوړیږه! ډیر جور مه ځه" داسې هم واقعات شوي دي چې په خوب کښې ئې ورله ګیره کټ کړې ده، کله ئې ترې عمامه شلولې ده نو په داسې صورت کښې چې بچے ګیره اوساتي، د علمِ دِین زده کولو د پاره د نیکو خلقو خوا له ځي او په اجتماعاتو کښې شریك کیږي او مور و پلار ئې منع کوي نو د مرګ نه پس هغوئي ته د خپل ځوئ دې نیك اعمالو ثواب به څه میلاؤ شي، مور و پلار خو ځوئ د نیکو نه منع کوي او ګناه پرې کوي او د "ولید بِن مُغیره" د نائب جوړیدلو حق ادا کوي. په قرآنِ کریم کښې د "ولید بِن مُغیره" 10 عیبونه بیان شوي دي چې په هغې کښې یو عیب دا هم دے: ﴿مَنَّاعٍ لِّلْخَيْرِ﴾(ترجمهٔ کنزالایمان: د خیر نه لوئے منع کوونکے.) (پ29، القلم: 12) نو کوم خلق چې د نیکئ او خیر نه منع کول کوي اګرچې مور و پلار وي یا بل څوك، هغوئي به د دې آیت لاندې راځي. زه یو جمات جوړووم نو ما ته به ثواب میلاویږي، د جمات د پاره چنده ورکووم

نو ثواب به میلاویږي، بے پیسو د جمات د پاره مزدوري کووم نو ما ته به ثواب میلاویږي، په محله کښې جمات جوړیږي او زما زړه پرې خوشحالیږي نو کیدے شي چې په دې باندې ما ته ثواب میلاؤ شي. خو که زه قهر شم چې "دا جمات ولې جوړیږي؟ دومره ځائے ئې اونیولو، دا ئې اوکړل هغه ئې اوکړل" نو بیا ما ته به ثواب د کوم ځائے نه میلاؤ شي. مور و پلار ته ثواب په هغه صورت کښې میلاویږي چې هغوئي خپل اولاد په نیك کار کښې مصروفه کړي، د هغه د پاره کوشش اوکړي او علم دِین ورته زده کړي او د دُنیا نه لاړ شي. (صراط الجنان، پ1، البقرة، تحت الآیة:212/1،132) د ثواب رَسَوَلو یو صورت دا هم دے چې اولاد کومه نیکي هم کوي د هغې اِیصالِ ثواب اوکړي، بیا به هغوئي ته د هغې ثواب اورسي. مور و پلار که چرته نیك اولاد پریږدي او وفات شي او هغه د خپل مور و پلار د پاره دُعا کوي نو مور و پلار ته به ثواب میلاویږي. (مسلم، ص684، حدیث:4223 ماخوذاً)

د چا په شا چې داسې اولاد موجود وي نو دا ډیره د خوش نصیبۍ خبره ده. خو رښتیني خبره دا ده چې نن سبا ماشومانو ته دُعا کول هم نه ورځي. په رَمَضان کښې قرآن کریم ختم کولو نه پس مونږه د خپل ځان په شان خلق ګورو چې "ما قرآن پاك لوستلے دے، تاسو ئې اوبخښئ." زما سره داسې څو څو ځله شوي دي. خلقو ته دا پته نشته چې قرآن لوستلو نه پس څنګه بخښلے کیږي؟ لکه بس مولانا هم دے چې د قبر دروازه بیرته کوي او [قبر] ته دننه ثواب کوزولے شي. ښکاره خبره ده چې د دې ټولو

وجه د نیك ماحول نه لرې والے دے. اَلْحَمْدُلِلّٰه! د دعوتِ اسلامي دیني ماحول سره ترلے شوي خلقو ته پته ده چې ثواب څنګه رسیږي؟ کوم مور و پلار چې اولاد د نیك کارونو نه منع کوي او معاذَ الله په نیکۍ کولو سوَزي، نو په بعضو صورتونو کښې د کفر کیدو اندیښنه هم ده. دا ډیره خوفناکه مُعامَله ده. مونږه په نیکو کولو اوسوزو مخکښې د دې نه چې الله پاك زمونږه خاتمه په اِیمان باندې اوفرمائي. (ملفوظاتِ امیراهلِ سنت،5/106)

**سوال:** که مور و پلار روژه نه نیسي نو بچے څنګه هغوئي پوهه کړي؟

**جواب:** بچو له پکار دي چې هغوئي د خپل مور و پلار د پاره دُعا اوکړي او د "**فیضانِ رَمَضان**"[1] کتاب نه د روژو نیولو فضائل او نه نیولو سزاګانو باندې مشتمل روایاتو داسې درس ورکړي چې هغوئي ئې هم واوري. که الله پاك اوغواړي نو هغوئي ته به د روژو نیولو توفیق میلاؤ شو. (ملفوظاتِ امیراهلِ سنت،7/ 44)

**سوال:** مونږه خپل مور و پلار ته څنګه د نیکۍ دعوت ورکړو؟

---

[1] ..."فیضانِ رَمضان" دا د شیخِ طریقت،امیرِ اهلِ سنَّت حضرتِ علّامه مولانا محمد الیاس عطار قادری رضوی دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِيَة 460 صفحو باندې مشتمل خپل کتاب دے،په دې کتاب کښې 10عُنوانونه دي:(1) فضائلِ رَمَضان شریف (2) اَحکامِ روزه (3)فیضانِ تَراویح (4) فیضانِ لیلةُ القدر (5)الوداعِ ماهِ رَمضان (6)فیضانِ اِعتکاف(7)فیضانِ عیدُ الفطر (8)نفل روزوں کے فَضائل(9)روزه داروں کی 12 حکایات (10) معتکفین کی 40 مدنی بهاریں. (شعبه ملفوظاتِ امیرِ اهلِ سنَّت)

**جواب:** تاسو د خپل مور و پلار فرمانبرداري کولو سره هغوئي ته د نيکۍ دعوت ورکولے شئ. که د مور و پلار فرمانبرداري اوکړئ، د هغوئي په مخ کښې نظر لاندې ساتلو سره په قلاره آواز خبرې اوکړئ، کله چې هغوئي راځي نو د هغوئي مخې ته لاس په نامه په ادب کښې اودريږئ نو کله چې تاسو د هغوئي سره په داسې انداز سلوك اوکړئ او د هغوئي ښه ادب و احترام اوکړئ نو دا بهترين د نيکۍ دعوت ثابتيږي او بيا چې کله تاسو هغوئي ته څه خبره کوئ هغوئي به مني. **ياد لرئ!** په اولاد باندې د مور و پلار دا حق هم دے چې دوئي د هغوئي تعظيم اوکړي، د هغوئي ادب اوکړي او د هغوئي فرمانبرداري اوکړي. که د مور و پلار سره اړي او ضِد کوي [او د هغوئي خبره نه مني] نو داسې نه مور و پلار ته او نه بل چا ته د نيکۍ دعوت ورکړے کيدے شي. زمونږه خوا ته دا وي چې د عوامو په مخ کښې خو جناب، **لَبَّيْك** او په مُسکي کيدو خوږې خوږې خبرې کوي او د مور و پلار مخې ته د زمري په شان غوړمبيږي او په چغو چغو خبرې کوي نو په داسې صورت کښې په هغوئي باندې به د نيکۍ دعوت اثر څنګه اوکړي.[1]

(**ملفوظاتِ اميراهل سنت**، 2/240)

[1] ... اعلىٰ حضرت مولانا شاه امام احمد رضا خان رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَيۡه فرمائي: مور و پلار که ګناه کوي نو هغوئي ته په نرمۍ او ادب سره عرض اوکړئ که اومني نو بهتره ده ګنې سختي نه شئ کولے بلکه د غيبت (يعني چې هغوئي موجود نه وي نو هغوئي په غير موجودګۍ) کښې د هغوئي د پاره دُعا اوکړئ. (فتاوىٰ رضويه، 21/157)

**سوال:** که د مور و پلار په خپل مينځ کښې جدائي راشي [يعني پلار مور له طلاق ورکړي] نو په داسې صورت کښې اولاد له څه کول پکار دي؟

**جواب:** مور و پلار په خپل مينځ کښې که جدائي راشي نو په داسې صورت کښې اولاد له پکار دي چې د مور و پلار دواړو سره انصاف اوکړي. اولاد له دا خبره په خپل ذِهن کښې کښينول پکار دي چې د طلاق ورکولو نه پس پلار د پلار کيدو نه نه اوځي بلکه پلار پلار ئې، په دې وجه د پلار حقوق ادا کول ضروري دي. ځکه چې عام طور باندې مور په بچو باندې زورروه وي په دې وجه په داسې موقعو باندې ځلمي بچي د مور مرسته اوکړي او پلار د کور نه اوباسي. دغه شان بعضې وخت د جدائي نه پس مور بچي د پلار سره د ميلاويدلو او ملاقات کولو نه منع کوي او داسې دهمکۍ ورکوي چې د پلار سره ميلاؤ شوئ نو زه درته خپل پـئ نه بخښم! په داسې صورت کښې بچو له پکار دي چې د خپلې مور خبره اونه مني، په پټه د خپل پلار سره تَعَلُّقات قائم ساتي که پلار ته د روپـو ضرورت وي نو د هغه د پاره دې خپل جيب او بټوه بيرته ساتي چې داسې کولو سره به الله پاك دوئي مالا مال کړي. په جنګ جګړو کښې که مور په حقه وه او د دې باوُجود پلار په غُصَّه کښې طلاق ورکړو بيا به هم اولاد د پلار سره ښه سلوك کوي ګنې د قيامت ورځ لرې نه ده، د مور و پلار نافرمانه ته په دُنيا کښې سزا ورکړے کيږي.

اَلْحَمْدُ لِلّٰه! په مُعاشره کښې داسې د ستائنې وړ بچي هم دي کوم چې د مور و پلار په مینځ کښې د جدا کیدو نه پس د فساد نه د بچ کیدو د پاره د مور نه په پټه پټه د پلار مالي مدد کوي او د علاج خرچه ئې هم برداشت کوي. مور له پکار دي که طلاق وغیره اوشي نو زړه دې غټې ساتي او اولاد دې د پلار د نافرمانئ په ګناه را پار نکړي بلکه که ممکنه وي نو اولاد دې داسې پوهه کړي چې زما او ستاسو د پلار په مینځ چې څه شوي دي دا د نظر نه واړوئ، زما هم خدمت کوئ او د خپل پلار هم خیال ساتئ. که اولاد په مور و پلار کښې په یو باندې ظُلم کړے وي نو د هغوئي په ښپو دې پریوځي، مُعافي دې ترې اوغواړي او د الله پاك په بارګاه کښې دې توبه هم اوکړي. زیات تر مُعامَله د طلاقه پورې نه ځي او مور و پلار جنګ جګړه اوکړي جدا شي، په داسې صورت کښې اولاد له پکار دي چې د مور و پلار په مینځ کښې صُلح اوکړي چې په قرآنِ پاك کښې دي ﴿وَالصُّلۡحُ خَیۡرٌ﴾ (پ5، النسآء:128) ترجمهٔ کنزُ الایمان: او صُلح ډیره ښه ده. که صُله اونشي نو د دواړو دې خدمت کوي او داسې دې هیڅ کله اونشي چې د یو خدمت کوي او دویم دې پریږ دي. څنګه چې مور و پلار اولاد په وړوکوالي کښې بستره ګنده کولو او شرارتونو په وجه د کور لوښې ماتولو باندې نه پریږ دي ځکه چې دغه وخت اولاد ته د مور و پلار ضرورت وي دغه شان اولاد له هم پکار دي چې کله لوئے شي نو د مور و پلار سره دې وفاداري کوي او هغوئي دې هیڅ

کله [بے وسه او بے اسره] نه پریږ دي ځکه چې په دې وخت کښې مورو پلار ته د اولاد ضرورت وي. (ملفوظاتِ امیراهل سنت، 1/ 188)

**سوال:** که پلار دویم واده اوکړي او د ورومبئ بي بي اولاد سره تک راتګ پریږ دي نو په داسې صورت کښې اولاد څه اوکړي؟

**جواب:** په داسې صورت کښې دې د ورومبئ بي بي اولاد صبر اوکړي او د خپل پلار سره دې د میلاویدلو کوشش کوي. که اولاد د خپل پلار خدمت اوکړي نو هغه به خامخا د دوئي سره تګ راتګ اوساتي. کوم اولاد چې دا وائي چې پلار زمونږ سره نه میلاویږي په دې وجه مونږه هم د خپل پلار سره تګ راتګ نه ساتو، که پلار د دُنیا نه لاړ شي نو هم دا اولاد د میراث مال حاصلولو د پاره په منډه ځي او په خوب کښې به هم د پلار پریښودے شوي مال اخستلو نه انکار اونکړي. که اولاد مالداره او پلار غریب وي بیا هم اولاد له د الله پاك رضا او جَنَّت حاصلولو د پاره د خپل پلار خدمت کول پکار دے. د جَنَّت څه قیمت نشته چې په روپو او خزانو حاصل کړے شي البته د مور و پلار د خدمت کولو په ذریعه د الله پاك رضا حاصلیدے شي.

(ملفوظاتِ امیراهل سنت، 1/ 189)

**سوال:** اولاد په کومو صورتونو کښې د خپل مورو پلار سره تَعَلُّق ختمولے شي؟

**جواب:** که مور و پلار **مَعَاذَالله** اِیمان پریږ دي او مرتد شي نو بیشکه د هغوئي سره دې خپلولي ختمه کړے شي. (فتاویٰ رضویه، ۲۱/۲۸ملخصاً)

که نَعُوْذُ بِاللّٰه هغوئي د اولاد دِين ته د نقصان رَسَوَلو منصوبے جوړې کړي مثلاً هغوئي غواړي چې اولاد هم د خپل ځان په شان جوړ کړي نو بيا خو زياته خطرناکه مُعامله ده لِهٰذا په داسې صورت کښې اولاد دې د دوئي نه نور هم لرې اوتښتي. بهرحال که مور و پلار مرتد وي نو د هغوئي سره به رشته [يعني خپلولي] ختمول وي.

اصلي کافر هغه کافر وي چې د شروع نه کافر وي او مرتد هغه دے کوم چې د مسلمانيدو نه پس کافر شوے وي. د اصلي کافر په مُقابَله کښې د مُرتد احکام زيات سخت دي او د کافِر په مُقابَله کښې به د مُرتد عذاب هم سخت وي.

(ملفوظاتِ اميراهل سنت، 2/ 415)

**سوال:** مور و پلار که په غلطي کيدو يا نه کيدو باندې ښيرې کوي نو آيا د اولاد په حق د هغوئي ښيرې قبليږي؟

**جواب:** د مور و پلار دُعا او ښيرې د اولاد په حق کښې قبول دي.[1] په دې وجه د هغوئي دُعاګانے اخستل پکار دي او د ښيرو نه بچ کيدل پکار دي. کله چې څه قُصُور کيږي نو مور و پلار په غُصَّه کښې راځي او ښيرې کوي ګني بے موقع هغوئي ښيرې نه کوي. مور و پلار له پکار دي چې هغوئي صرف خپل اولاد ته دُعاګانے کوي او ښيرې دې نه کوي چې بے وسه اولاد به د هيڅ هم پاتي نه شي [يعني د مور و پلار ښيرې اولاد ته ډير نقصان رسوي].

(ملفوظاتِ اميراهل سنت، 3/ 97)

[1] ... د اَولاد په حق کښې دُعا قبوله ده او بد دعا [يعني ښيرې] هم ، د والد نه مُراد مور پلار دواړه دي دادا [يعني د پلار پلار] هم په دې کښې داخل دے چې بالواسطه [يعني په تَعَلُّق باندې هغه هم] والد دے، د مور دُعا ډيره زياته قبليږي. (مراٰةالمناجيح، 3/301)

**سوال:** په بعضو ودونو کښې د واده د ځلمي مور و پلار دا غواړي چې په واده کښې سندرې باجے، شور زوَګ او ګډا ګانے وي او د واده ځلمے د دې خلاف وي نو آیا په دې صورت کښې د واده ځلمے د خپل مور و پلار خلاف کولے شي؟ آیا دا به د مور و پلار نافرماني وګڼل کیږي؟

**جواب:** الله پاك دې په مونږه رحم اوفرمائي چې مونږه د ګناهونو نه بچ شو او ودونو او نورو پروګرامونو کولو کښې کامیاب شو. دا خبره همیشه یاده ساتئ چې چرته د الله پاك حکم راشي هلته د بل چا حکم نه منل کیږي په دې وجه الله پاك چې د کومو کارونو نه منع کړې ده که مور و پلار د هغې د کولو حکم اوکړي نو په دې صورت کښې به د مور و پلار د نافرمانئ کولو ګناه نه میلاویږي بلکه ضروري ده چې په دې مُعامَله کښې د مور و پلار خبره اونه منل شي او د الله پاك او د هغه د رسول صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په خبره باندې عمل اوکړے شي. (تفسير خازن، پ21، لقمٰن، تحت الآية:15، 3/470 471)
سندرې باجے د ګناهونو کارونه دي او الله پاك او د هغه رسول صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د ګناهونو نه منع کړې ده په دې وجه په ودونو کښې دا نه ده پکار، که د واده ځلمے [د ګناهونو یعني سندې باجے او ګډا ګانے] دا کارونه نه کوي او مور و پلار منع کوي نو هغه صحیح کوي. مور و پلار له پکار دي چې د خوشحالئ په موقع باندې هغوئي د خپلو بچو داسې خبره مني نو داسې خبره دلته هم منل پکار ده او د همیشه د پاره د دې ګناهونو او د ټولو ګناهونو نه توبه کول پکار دي. (ملفوظاتِ امیر اهل سنت، 2/ 498)

**سوال:** کوم اولاد چې د خپل مور و پلار په ژوند کښې هغوئي راضي نه کړل هغوئي د هغوئي د وفات نه پس کوم داسې عمل اوکړي چې د هغې په وجه د هغوئي مور و پلار د هغوئي نه راضي شي؟

**جواب:** د چا مور و پلار چې د ناراضۍ په حالت کښې وفات شوي وي، هغوئي له پکار دي چې هغوئي د مور و پلار د پاره ډير زياتې د بخښنې دُعاګانې اوغواړي ځکه چې د وفات شوو د پاره د ټولو نه بهترينه تحفه د بخښنې دُعاګانې دي. په دې وجه د الله پاك حبيب، حبيبِ لبيب صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائي: د چا مور و پلار دواړه يا يو وفات شو او ده د هغوئي نافرماني کوله، اوس د هغوئي د پاره هميشه اِستِغفار کوي، [يعني د بخښنې دُعاګانې غواړي]، تر دې پورې چې الله پاك هغه نيکوکار [يعني نيکي کوونکے] اوليکي. (شعب الايمان، 202/6 حديث: 7902) اولاد له پکار دي چې د خپل مور و پلار د پاره د بخښنې دُعاګانې غوښتلو سره سره فاتحه او دُرُود شريف وغيره هم لولي او په کثرت سره دې د ثواب رَسَوَلو سلسله جاري اوساتي چې کله د اولاد له طرفه هغوئي ته ډير زيات اِيصالِ ثواب اورسي نو د الله پاك د رحمت نه اُمّيد دے چې هغوئي به د خپل اولاد نه راضي شي. د خپل مور و پلار او نورو خپلو خپلوانو د اِيصالِ ثواب په نِيَّت د مکتبةُ المَدينه مدني رسالے هم تقسيم کيدے شي. که څوك د خپل مور و پلار او نورو خپلو خپلوانو د اِيصالِ ثواب د پاره مدني رسالے تقسيمول غواړي او په هغې رسالو باندې د

خپل مور و پلار وغیره نوم لیکل غواړي نو هغوئي دې د مکتبةُ المَدینه سره رابطه اوکړي.[1] (ملفوظاتِ امیراهل سنت، 184/1)

**سوال:** آیا مور و پلار ته په قبر کښې د خپل اولاد د ژوند په باره کښې پته لګیدے شي؟

**جواب:** وفات شوو مور و پلار باندې هره جمعه د هغوئي د اولاد ښه او بد اعمال پیش کیږي، کله چې هغوئي د اولاد نیکۍ اوویني نو د هغوئي مخونه د خوشحالۍ اوپړقیږي، په هغې باندې د خوشحالۍ نښې وي او چې کله بدۍ او ګناه اوویني نو د هغوئي په مخونو باندې د خفګان نښې وي. (نوادر الاصول، الجزء:۱، ص ۲۱، حدیث:۹۲۵)یعني د هغوئي مخونه [د خفګان په وجه] خړ شي. (ملفوظاتِ امیراهل سنت، 389/4)

**سوال:** که د چا مور و پلار غیر مسلمه وي نو هغه په لمونځ کښې لوستونکې دُعا ﴿رَبِّ اجۡعَلۡنِیۡ مُقِیۡمَ الصَّلٰوۃِ﴾ په کوم کښې چې د مور و پلار د بخښنې دُعا هم ده، په هغې کښې څه نِیَّت اوکړي؟

**جواب:** د اَمِیرِ اهلسنّت دَامَتۡ بَرَکَاتُهُمُ الۡعَالِیَهۡ اهم کتاب کفریه کلمات کے بارے میں سوال جواب په صفحه 77 تا 78 باندې لیك دي: "**سوال:** که د چا موروپلار دواړه یا یو کافر یا

[1] ... مور و پلار یا د نورو خپلو خپلوانو د اِیصالِ ثواب د پاره مَدَنی رَسالو تقسیم کولو د پاره په دې پته [یعني ایډریس] باندې رابطه اوکړئ:



www.dawateislami.net

مرتد وي نو هغوئي دې د فیضانِ سُنَّت درس ورکولو نه پس دا دُعا: "اے اللّٰه زمونږه، زمونږه د مور و پلار او د ټول اُمَّت بخښنه اوفرمائې"

کولے شي او که نه؟ نور په لمُونځ کښې دا قرآني دُعا ﴿رَبِّ اجْعَلْنِیْ مُقِیْمَ الصَّلٰوةِ...﴾ دا حِصَّه ﴿رَبَّنَا اغْفِرْلِیْ وَلِوَالِدَیَّ...الخ﴾ لولي او که نه؟ **جواب:** که مور و پلار ئې کافِر وي نو د هغوئي د پاره د بخښنې دُعا کول کفر دے." (تفسیر کبیر، پ11، التوبة، تحت الآیة:114، 159/6)

په دې وجه په درسِ فیضانِ سُنَّت کښې د دُعا دا الفاظ "زمونږه د مور و پلار" دې نه وائي بلکه داسې دُعا دې اوکړي: اے اللّٰه! زمونږه او د ټول اُمَّت بخښنه اوفرمائې. په لمَانځه کښې هم داسې دُعا نشي لوستلے (په کومه کښې چې د مور و پلار د بخښنې دُعا وي). که په سوال کښې د ذِکر شوي دُعا ترجمه پیژني چې د مور و پلار د بخښنې دُعا په دې کښې ده او دا ورته هم پته ده چې د ده مور و پلار کافر یا مرتد دي بیا هم ارادةً قصداً د خپل مور و پلار د بخښنې په نِیَّت هغه دا دُعا اولوستله نو دې دُعا کوونکې باندې د کفر حکم دے او توبه و تجدیدِ ایمان (یعني د نوي سر نه اِیمان راوړل) په هغه باندې فرض دے. (فتاوی رضویه، 228/21) (ملفوظاتِ امیراهل سنت، 203/3)

**سوال:** اولاد کتې او مور و پلار بوډا والي ته رسیدلي دي نو په داسې حالت کښې اولاد سوچ کوي چې اوس په مور و پلار باندې حج کووم مونږه به ئې وروسته اوکړو آیا داسې کول درست دي؟

**جواب:** که د حج شرائط موندلو باندې په اولاد باندې حج فرض شوے دے نو اوس دوئي له پخپله حج کول دي تردې پورې که مور و پلار اجازت ور هم نکړي بيا هم د فرض حج د پاره به تلل وي.[1] (ملفوظاتِ اميراهل سنت،37/3)

**سوال:** د حج فارمونه ډکيدل او د حج تياري کيدله. که د چا مور و پلار د دُنيا نه تلي وي نو آيا د هغوئي د پاره حجِ بدل کولے شي؟ که څوك د خپلو مرحومينو [يعني وفات شوو خلقو] د ايصالِ ثواب د پاره څوك حج له ليږل غواړي نو آيا مرحوم [يعني وفات شوي کس] ته به د هغې ثواب ميلاؤ شي؟

**جواب:** د حجِ بدل ډير مسائل دي. کله چې هم حجِ بدل کول وي نو د دعوتِ اسلامي د مکتبةُ المَدينه کتاب "**رفيقُ الحرمَين**" او "**بهارِشريعت**" کښې موجود مسائل کتل پکار دي. (رفيق الحرمين، ص208۔ 214 بهارِ شريعت،1/1199۔1210)

په بل باندې حجِ بدل کوونکے دې هم مسائل اوګوري او پخپله حجِ بدل کوونکے دې هم د مسائلو مطالعه اوکړي. خالي چا اووئيل چې حجِ بدل اوکړه او مونږه خوشحاله شو چې ورِوه خرچه ميلاؤ شوه او آقا (صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) را بللي يو. داسې دې نه وي. حجِ بدل کولے شي، خو د هغه چا نه کول پکار دي څوك چې د حجِ بدل

---

[1] ... په بهارِشريعت، کښې صدر الشريعه، بدر الطريقه مفتـي امجد علی اعظمی رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: کله چې حج له په تللو باندې قادر شو نو حج فرض شو يعني هم هغه کال او اوس تاخير [يعني ناوخته] کول ګناه ده او که يو څو کاله کښې ئې اونکړو نو فاسق دے او د هغه ګواهي مردود [يعني رد کړے شوي] ده خو چې کله ئې اوکړي ادا دے قضا نه دے. (بهارِ شريعت، 1051/1، حصه:6 ماخوذاً)

مسائل پيژني. عام خلق د حجِ بدل مسائل نه پيژني. د مور و پلار له طرفه حجِ بدل كول د ډير لوئے ثواب كار دے. ځوك چې د خپل مور و پلار په نوم حج اوكړي هغه ته به د 10 حجونو ثواب ميلاويږي. بهرحال د خپل مور و پلار او خپل نزدې خپلوانو له طرفه، نور د حُضُورِ غوثِ پاك او خواجه غريبِ نواز رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْهِما د ايصالِ ثواب د پاره حجِ بدل كول پكار دي. په دعوتِ اسلامي كښې هم دا تركيب دے چې مونږه په حجِ بدل باندې خلق ليږو، لكه څنګه چې مونږه د دارُ الافتاء اهلِ سُنَّت علماء باندې حج كوو، زمونږه كوشش وي چې د دارُ الافتاء اهلِ سُنَّت هر عالِم حج اوكړي، د پاره د دې چې مسائل پريكټيكل اوشي [يعني د حج مسائل عملي طور ادا كړے شي او د هغې تجربه هم اوشي] او د اُمَّت رهنمائي كول آسان شي.

(په دې موقع باندې رُكنِ شورٰی حاجي عبدُ الحبيب عطاري اوفرمائيل:) د دعوتِ اسلامي **مجلس حج و عمره** له طرفه د خپلو خپلوانو د ايصالِ ثواب په خاطر اسلامي ورونړه په حجِ بدل باندې ليږونكو د پاره څه دُعا اوفرمائې.

(په دې موقع اَميرِ اهلسنّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه دا دُعا اوفرمائيله:) يا رَبِّ مصطفٰـی! كوم يو كس چې د دعوتِ اسلامي مجلس حج و عمره په ذريعه خپلو خپلوانو د ايصالِ ثواب د پاره يا داسې نفل حج كولو د پاره چا ته مال وغيره وركړي، مولائے كريم د هغه ايمان سلامته اوساتې، د بدې خاتمے نه ئې بچ كړې، يا الله! هغه د آفات و بليات نه محفوظه اوساتې، د دواړو جهانونو خيرونه د هغه مُقَدَّر كړې او هغه بےحسابه اوبخښې.


(ملفوظاتِ امير اهل سنت.5/ 263)

**سوال:** که مور و پلار وفات شوي وي نو آيا د هغوئي په نوم قرباني کيدے شي؟

**جواب:** بيشکه کيدے شي. که ستاسو سره حِصّے والا غټ څاروے دے نو په هغې کښې د خپل وفات شوو مور و پلار نومونه اچولے شئ او دا قرباني به د هغوئي له طرفه د ايصالِ ثواب قرباني اوګرځي.

(فتاوىٰ رضويه، 597/20) (ملفوظاتِ امیر اهل سنت، 246/5)

د راتلونکې هفتې رساله




عالمي مدني مرکز فيضان مدينه محله سوداګران پرانې سبزي منډي کراچي

UAN: +92 111 25 26 92 Ext: 7213

Web: www.dawateislami.net / E-mail: translation@dawateislami.net